

Ketabton.com

# ورانګه

یوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وراندي
بیا پیړه په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

په وياړ
د هغه ټولو مړيالو
چې د بنياد مود ښتونو ځني
تېځندي د پښتو ځولاني او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا
رنګ آدمزاد خپل قجير قامت
ته ورځکوي او ژوندنور
غوځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک یې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوړېدی[1] شي

ځان په ښش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوګې اوډرېدی شي

څه په سرآسمانونې یې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړغونېدی شي

په خرډک[3] دي ولې سود[4] شي
چې په خپز نښترېدی شي

د پېړو[5] تل[6] نه ولې پلې[7]
له بریالو چې ملېدی[8] شي

د بازادارهنر دې نه نړ ده
که نه یې چیتی بازېدی شي

لیت او لارچې د مېړه وي
فطرت ښول ولجه کېدی شي

---

۱- نوړېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پېړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګېدل

که سوارهٔ لوی فرعونان دي
که کلیم ع شي کونړېدی شي

د برې لاري بند نه دي
که له سره څوک تېرېدی شي

لوی کتاب د میړښکارانو
که په وینه کې د ځان کا
بیا د خټو کوګوشتان ټول
الوتونکي باتوران کا

د کلیم دودونه خپل کا
رانسکوره زوروجهان کا
پرېباسلي او نتلي[1]
د دوران قهرمانان کا

هغه څوک چې مېړه خېل دی
ټینګ په ننګ او په خپل خېل[2] دي
د زمرو ماړي[3] یې ژوند دی
چې د شنو زمرو د سېل دی

۱-نتلي= ناتارشوي، ۲-خېل= هوډ، ۳-ماړي= ښکار.

ترمې وېنې دی سکروټې

ترمې وېنې هم رامبېل[1] دی

د خپل تنګ دې پاتې شوي

په کولنه[2] دی که په بنکېل دي

ږشی خنګه بې کوندې[3] شي

چې څانګې[4] همه رشپېل[5] دي

دا طبیب به دې خنګ روغ کړي

چې یې چارې د شاخېل[6] دي

چې د دروزې[7] یې تښې وي

په وېنو پرانه غلبېل دي

چې جامه یې کاسیري[8] وي

څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] وروستې ده

مشرې که په چارخویل[11] دي

---

۱- رامبېل = یوګل، ۲- کولنه = کټه چې دغوېي، څاروي څټ ته یې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳- کوندې = کا منې کټې - خلېل، ٤- څانګې = درې غابنې ٥- رشپېل = چې دغلې ږشی پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خیل کوي یعنې خرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغمو ونډې - تیلې، ۸- کاسیري = بد لمنې ۹- چېل = پرونې، ۱۰- انګې = یوه لوبه چې وایي انګې انګې مل دی څوک دی ،

۱۱- چارخویل = قرقره

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئیل[2] دي
شاید بیا خلیل ؑ زرغون کړي
"مومنان" تول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
څوند په هر اړیکی وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام[3] پیټې
وړې تندي باندې مېړونه
د ملخي نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

۱- سادین = اړولی ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- تویزیز

په جرقار چې لر و بر کړي

بلالي رض هغه بانګونه [1]

چې دا ځمکه دخدای کوړ کړي

دي هغه دښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه

لکه حق يې کړی ورړه وي

د ننګيال په مټ، په توره

دلته ارد ښتن کړه وي

خولې ماتې په فرعون کړي

د ننګيال د مزري زړه وي

تورخنګلونه [2] خوندي وي

حق ننګې يې غرين کړه [3] وي

ساه يې واچوي جوش [4] کې

له پيړو پيړو چې مړه وي

دناحق وړه [5] بتول پړه کړي

وړه هغه کړي، چې تل پڼ وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورخنګلي = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا - سنګو

۴- جوش = تنه ، ۵- وړه = بريالي.

د ګیدړې په اوږو نه شي
چې په غړمب دښتو زمرو شي

په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي

په منښتو[1] نه بېدېږي
چې په وینو په خولو شي

چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له توتکو شي!

ننګيالي يې شي کولی
چې په دار، په غرغرو شي

د تاريخ بهير کړولی
کله څوک بې هوډيالو شي؟

د اسمانو چارې کله
د نارامو[2] په لينګو شي

د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو توريالو شي

د ځيرک مېړنو کله
له درست کلي د رندو شي

١- منښته = زيار تونونه دوړو د پاره په ځان څه منل، ٢- نارام = ناغيږ ـ ناراست .

چې رنځور باویړی[1] وکړي

پو چې هیلې د دارو شي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله بې سود په کوکو شي

د څانګو د کوچنی نمړی[2]

پوره څه رنګ په ځلمو شي

چې د نمر د روڼاوي وي

روڼ به څنګ په اورکو[3] شي

عقل څه خوني اتي دی

راسوړی[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سر پوره والی

د حرفي په سیپارو شي

چې له مال خبره واوړي

پت په سربندي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

دا سړي سړي باله شي

---

۱- باویړی = بابېړی = د ناروغی بیا تاندېدل، ۲- نمړی = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
٤- راسوړی کېدل = راګرځیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوېتې نه تلي ضبا څـوک

هم يو «زه يم» به تالـه شي

ښکلي هغه چې ښـېـوه(۱) يې

يو د «زه يم» په پسـاله شي

زه يم هر کله ځلـيـدی

دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحر وي

چې دا ځمکه يو کاله(۲) شي

په يولوی سـين کې غـرلي

چړې، چړ لښتی، و يـالـه شي

---

د کتاب حد ماتي مه شي

هره لاره چې تـرې

چې د ژوند د خيره نه وي

ورانوه لارې زړې

حق به هـله ميشته وکا

لومړی غير چې وشړې

يا سرې ياد څـرې شه

حق ناحق ولې ولـړې

---

۱- ښېوه = دول- ښايسته والى، ۲- کاله = کور

زبېښناکيان چې له مېنځ ورک شي
پرګني به شي مړي
لوی آتيان لکه اوګر(۱) کړي
د جګ غر تېږي وړي

ستور څار کو دواړه کسي
په څار لوکړل تنها کې
نړۍ ورت يې چرته بيا موند
برد ستورو په دنيا کې

له کارونو او له شګو
سره زر و سنګل کېږيګرو(۲)
السول حق و ناحق دي
څنګ تراوسه سترګورو؟

د بوذر(۳) د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پيوندي دي

---

۱- اوګر: د څارووډ خوړلو نه وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تنانتې، ۲- کیږیګر: کیږی ګوونکي

## جوړوي د ښېښو مېنې[1]

څېرکان خوښېبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې له سوخته مارکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"

د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د ورېږي

ولې "زه يم" يو توکيز[4] دی

يو توکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود دې څه دی؟

د حجرو[5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه انډولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته- نيشت، ٤- يوتوکيز = د يو توکی نه جوړ- چې کډونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells- ژوند ينکي.

دا خاورینه واړه توکي
د بړیښنکو غوښي دي
او بړیښنکو ته چي څیر شي
تشي ترقنده ځپي دي

○

دین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه یي چارمیخ

○

ګرلاسي کندوان یي ډک شول
چي جب جوب شول په خولو کي
ځارله هغو توریالیو
چي په خپل دي سرخیړ (۱) وکي
غوره (۲) ټوله دي په ځان بده
تش لمن که یي پسرلو کي
ساده ګوري ملغلري
څسا ډنډوکو، خرخوړ وکي

---

۱- سرخیړي = سرپړه ، ۲- غوره = تومت - ګرم والی - ملامته

دا چې کوابښ په ستورو کېږي
ته هم زاوره څه نېزوکې
څه ناویاته چاره وکړه
مېرنیه! په تلو تلوکې

کوړیمار[1] چې د بمبل وو
هغه سر په مونډو[2] دی
کړولی[3] چې یې د باز وې
پډلولکو په شوغو دی
چې د برید اود غدی وُ
د تسپو د موسلو دی
چې جرګې یې پرې ښایسته وې
هغه شرم د جرګو دی
چې ښبتن دلوی اخور وُ
اوس د پوچو کښېدو دی
د تیرو تورو بوړ[4] کی وُ
د بې سترګو د کندو[5] دی

۱- کوړیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه کې ویشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تیلی ځمې نه ښکته وچې کېږي لوېږي، ۳- کړولی = د ښکار ځیرکولی، ښار لود پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بوړ = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځنې نامــــنده

څه د خوشو عقیـــدو دی.

بازداري پولـوی هــنر دی

ته په يو ښیله(1) بازداري

چې نه لـري جــېب

په نامه باندې میشکاري(2)

تش غر بازو وته ناستې

څه که ځوې د لوی بلاري

ته میرښکاره کرېږ غـــواري

په ښه ښه مــــرداري

يې په تومنه له و يـارلو

خو په چاروکې د ويار(3) ري

له قرآن په غیر هـذا

بې صلوة مونځ ګذاري

کله سرګریوان ته کوز کړه

چې داولې دومره خواري؟

---

۱- ښیله = د څرمنې لاسمه چې د باز ښکښنولو د پاره یې لاس ته اچوي، ۲- میشکار = بلزوان، ۳- ویار = شـــرم.

چې ټول نه قرآني وي

دا سړي به شهسړي[1] وي

دا تنزري تاروکې به

بیا بازونه و هندي وي

دا پرېوتي، دا انسټ[2] به

بیا نښتري آسماني وي

چې نومړي په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[3] وي

د ننن شخولې[4] او کاټي[5] به

صبا توري او توبري وي

په ونډه[6] ځمکې د ننن به

نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي

نه به پولې، نه بیلتون وي

نه نها، نه زمایي وي

یو آدم، یو آدمتاله[7]

په کښ رنګ به یو رنګي وي

---

۱- شهسړي = ستر سړي، ۲- پرېوتي انسټ = بوټي دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن،

٤- شخوله = درسته، ٥- کاټي = تیکي، ٦- ونډه = داسي حلال کړي ځلروي چې پکې خلقو برخې (ونډې) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګني (ځمک زي یا آدم زي) را ټول وي یا سره را ټاله وي

آدمځوني[1] به یو کور وي

وران به کورکي کورکي وي

درناوی به وي په جسو

سپکاوي به بې جسې[2] وي

نه مریې نه به ښسبتن وي

نه به غټ، نه به نری وي

نه کاواک، نه به بې واک وي

چې الله به تولواکې وي

تولنوال به تولنوال له

رب، رحیم وي، اوولي وي

هم به یې کسب خالقي وي

هم توره[3] به یې رازقي وي

وی پاخون لکه یوتن به

یو تاله به مخنګي[4] وي

له ختیځه ترلویدیځه

به یوسترهٔ ورورولي وي

په حدونود کتاب کې

به دعقل خپل مخي[5] وي

---

۱- آدمځوني = ځمکه، ۲- جسې = ورتیا، اهلیت، ۳- توره = قانون - توره - ترلې لاره - لاره، ٤- مخنګی = مخکې تګ، ٥- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځار پرېږي به له ټولو
ټول له یوه به لوکي وي
له قبلو دې کډه ودړو
به یوه کعبه موندي[1] وي
له زړها اوړ اورکو به
د حرای یو رڼایي وي
سړي ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې ستړواکي وي

ستاخیرې درست کائنات دي
ته لاکوز په خرخښوي[3]
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښنوي[4]
ژوند له تنه کډونیزدي[5]
ته ځان ځانې به ترڅوي

۱- موندنه = راکښل نا وي. دغو بل د مینځ غوټۍ، ۲- فطرت = نیچر، د بنیادم نړېتر نور ټول کائنات ۳- خرخشي = جنګونه، ۴- دښنه = دښمنۍ، ۵- کډونیز په کډه هستېدونکي.

څمکه یو کور څکه نه شه
ته ترنن د کورکوي
یوکوړمه[1] واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلو یې
د یوې حجرې زېږنده
د حجرو په بېل ګلو یې

○

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کا ټولې
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو ورورولي ده
نه ملګري ملتونه
یو بیرغ په څمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
دا وسلې د مرګ لاهو کا
سُر د امن کا تارونه
پدې څمکې - آدمځوني
بیا برسیر کا جنتونه

---

۱- کوړمه = کورنۍ.

يو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چاپېره سور الوزي
ږږ ويزاره راپرېوځي
له دې چې قند نا تاربه
هم پاخه ښځتې وځي

چې د ژوند ځله يې مړه شي
چې يې ساه د لينکو وځي
راخوړ شي پرې دلوړو
او په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هر چا بردی
دعوه کېږ د کتاب کوره
د همه قامونو لر دی

---

۱- سرتوره = دسر قانون - اساسي قانون - بنسټيز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زردارو په تړلني
دي ګټونکي په بايلني
د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نړ بيښني
د مارو کوښي[1] جوړيږي
د تش[2] بانو له څرمني
د زردار ماڼۍ ولاړې
د کارګر په تڼي پلني
د ډک[3] لاس سپينه جامه ده
د تش لاس و په ريمني[4]
بده ورځ د لولنګرو[5]
دازل نه دی ليکني
د باطل ټولنه پايي
د مذهب په سروينځني[6]

---

١- کوښي = پيزار، ٢- تش بانې = نيستمن، ٣- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه = خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتر نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

وګړي ټول که آذري غواړي

څښتن له تا نه خليلي غواړي

د فرعوني سپاره کوزولوله

واړه وختونه کليمي غواړي

په تشو تيکو که کتي کېږي

د ننګ ډګر لا شه حلمي غواړي

وګړي ټول سر قوي او پايي

حق د ميړه غوندي څوندي غواړي

ښکيلاکي عمر د خاورو دي وګوري(۱)

څوندي آدم به مخ کښي غواړي

د باسين خونړي نيزاوچلي(۲)

د جاليوانو سرهنګي غواړي

په هسک او تل د حقيقت لټول

تل سربېري ليوني غواړي

چې د څښتن لاره د ب کولي شي هم

څوندا سي زين او هک سړي غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيزاوچلي = سيلاب او چپې.

○

د هګ قامونو په خرخشو کې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزاد کانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کندکونه به پرې ناتار کړي
کله چې که ټولې زمرې ته تهل شي
غښتلي متې د ځان کلا ده
کمزوري متې د ځان اجل شي
که سر ببري هو ډیالي پاڅي
په ریږکو[1] به داهګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې ښار دی
چې د حق د لارې بېل دی
په دنیا په آخر خوار دی
یو ویاړلی د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر د وییار[2] دی

۱- ریږکي = کوچنۍ - وړوکي - ناشي، ۲- ویار = شرم - پیغور.

چې تیغه[1] کې حق ته ولاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی
د خپل «زړه» ناروزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی
د مېړونو مټ که کوري
ګل ورین هم تن ډېر چار دی
په تولو چې د هټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی
چې د خېر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[2] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوترې
آدمزاد به دوه تپی وي
لرې برې نورې لرې
د هټولنو د لرمون به
زېینې لوږې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کړه وړه - نقش -
۲- مخدار = رو یدار - دروند.

شي څـورلي خَلَـقي به
بې دولیتي[1]، یوه څُري[2]
دړې درخاورې په سر به
پرکښې وي لولنګرې
د ټولنو لور شوردا —
خپلو بدو له اشرې
عقوبت په غرغنډو شي
چې دُکیا[3] وي اورد سرې
تاله تګ د ادم ار دی
په یو ورځې برابرې
چې پرې دروې کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبرې[4]

o

داچې ځان خانتور[5] بولي
داچې هرچېرته شمله دی
نیسمنان په کمنډ[6] نیسي
وایي سپک دی ارکجه دی

PROPERTY OF ACKU 7990

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- یوه څُري = چې یوازې وي، ۳- دکیا = چې لوګی کوي،
٤- مخبرې = په برمخ، ٥- خانتور = خان چې ترل پر انستل کوي چې دتورې خان وي،
٦- کمنډ = کم ذات - کم اصل - کم سیال

له ازل، وا يې بريال يو
نور په برخه شاګنډ[1] دي
دوی له مخ د خدای په رَغ[2] دي
نور له پښو يې زين نده دي!
کومه توره يې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نيستمنو کوم ګناه دی
چې نيمګړي، نيم کوره دي؟
او په هره يو ستونه
پړ، پرهوتي او روړ[3] دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم زی ټول يو حجره دي
له يوې حجرې راغلي
قام، قبيل، ټپه ټپه دي
لوړ ژور دي له زبيښا که
شته په نيشو[4] آلوده[5] دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شاي لګيدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
٤- شته او نيش = شتمن او نيستمن، ۵- الوده = ښښتې- اخته

لہ شتہ منو غلچکو بیا
مذهبونہ بدرکه دي

دفرعون دکور د ننه
پہ پاخون آخر موسیٰ ع شي
دباطلو بنامارانِ تتول
تار پتارېږي لہ امسا شي

○

عقل لیت دی، دیوکی ده
پرې قدم قدم رونېږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې ټول ړوند پرې جوتېږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توری هرکلہ ړوندی دی
د وختونو پہ آسمان یې
پہ ځلا ستوری سپوږمی دی

○

د زړو پېړو کارونہ | نه مېړونہ بہ بیا کړي
شاه مېړه کړي هغه چاري | چې پېړي پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

چې په ځان پلن[1] سوري نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کونړه چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هو دیالي نېزه باز کوړه
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له یوې بلې تپرې ته
د ړګي[2] زمري غورځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني څنګ کړي
ننګ په حق باندې کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځني واخلي
بیا وریا شي جهان رنګ کړي

کلیمان د ژوندون لاره — ږې د سترګو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لټون کې — تر عمرو نو سر غونډک کړي

---

۱- پلن سوري = په پسات پلن، ۲- ړګي = پرهار ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوندینکی
یو مونډی[2] زړیم اوده دی
د بدلون پدې څانډړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیر[4] مخی ړغانه وي
په ناتار د مرګ صبابه
میراث مړې هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتار کې    هم یو زړیم «دې خوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده    نو دا زړیم « دی مونډي دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول، ۲- مونډی = واکس، ناوی، ۳- څانډړه = همتړ- فویم سکلیټ، ٤- پیر مخی = پیرخوړونکی- بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښتو یو سي
چې موندلی یې وي اومړی[2]
د کچبه «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] ته باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته
نور هر څه چې دي نور پرې
له هر زبړي[4] د حجري نه
لکه ځان هسې راز پرې

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی
که وجود دی که ستولنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شړنګ نه دی    روزنګړي[5] د بدلون دی
د حجرو په کړچ کې اوسي    او دستړو تش الون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
٤- زبړی = هغه څه چې زیبږ وبلکوي، ٥- روزنګړی = روزنه کوونکی - لویوونکی.

ټول فطرت يې خوري تاليزه[1]

آدم نه ی جدا جدا وړي

د ځانی سود غم خوړونکی

له حق لاري پښې پیشا، وړي

چې په نورو خپله ویش کړي

خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ یې دواړه ښکلي

د خوړلو چې دعا وړي

چې له خپل میوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده

چې شي لټ، په هغو واوړي

---

۱- تالیزه = په جمع- تاله.

۲- اوښتون = انقلاب.

دژوندون په لوړه لار کې
مشالونه بلول دي
د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي
کتابونه دې ردجیل
سوزول او بدول دي
دآدم نه دې یاد کړي
دعمرونو هیرول دي
که مذهب یې هم سړ وینځي
چې باطل دی نیش[۱] کول دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي
په هر پل د پرمختیا کې
برابرا[۲] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دي

---

۱- نیش کول = ورکول- په نیش لګول.
۲- برابرا = په پلنو وژړ.

○

د سندان تندي به چرې ګرو نجي نه شي
د درنده و پلکو نو جوړ که پرې نانا روي

د مېړه نيستي يو ځو ورځې نيستي وي
نه مېړنو شاعري نيسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې همېش له
ښبتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتی(۱) کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې توره(۲) د حق ملا(۳) نو خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې ورله بويه
که رښا يې لار ليدلو له پکار وي

د رباب خواره دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه(٤) دې ويزار وي

---

۱- چتی = ورکوتی مرغی

۲- توره = قانون - لاره - منله

۳- حق مل = دحق ملګری

٤- ميلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسین کله پښه نیسي له غور ځنګه
چې تر څو د ظالمانو نوغی شته دی
حقملان راپسته شي څنګ له جنګه
پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کلیمو تر قلنګه
چې یې مټ د غلیمانو وي کښتلی
نه ویرېږي یې له تشه ډنګه د ننګه
د مړدۍ توره میدان کې لاس به کېږي
خلاصه نه وي یا د کاټۍ[1] توره له زنګه
پټ پل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څو دې نه ده لا کوټۍ[2] خاورینه رنګه
چې یې جسس د تن په مورکوپه پټ واوري
خود غه ته وي کړښې د جهان تنګه

---

۱- کاټۍ = تیکی - چړتون

۲- کوټۍ = د دانې کڅوړه

یو بری د یو جنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان بریښنا او تالندي که
چې د لوی څښتن د لاسوسره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجرو په جماتونو کې تورتم دی
د ډیوې غوندې لمبه دې په تندي که
د میړه د ځوی آوازه له خلقو بېل وي
څوک به یې څنګه په ټولنه کې ګوندي که
چې د خپل عمل لاره[1] ستړې کړل
څوک به څنګ هغه وکړي راژوندي که
له غوجلې د ښارو و به څنګه وځي
چې په مینه مینه څټ ته غوړوندي که
چې یې ویره د نهورنې له چا نه وي
هغې پاڅې بې وسان په ډاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوټې ته دغاړې
له خپل تنه پلواښنه[1] شه
د ټپانده اباسین خپل
لکه غاړې په ساته شه
د کرېږ سختي په ځان کړه
پسته باز په الوته شه
په خپل ځان قید ونه کېږده
زرغونه شه او بیا شته شه
پولې ړاښکه، پانګی[2] کېږده
بیا په زغاښت لکه مېږه شه
د ښښتن د لارې مل شه
له ښښتن ځنې لاړغه[3] شه
په ربیلوچې ورک نه شي
په لوښنه[4] لکه واښه شه
د ختیځ له الا الله
لا اله د پرېواته شه

---

۱- پلواښنه = مروړي - پلکواښنه، ۲- پانګی = میړ - ډکۍ - مرام
۳- لاړغه = لړغوني - وړاندي، ٤- لوښنه = خصلت - خوی

پە ټولنو لیوګان کە دي
هروګړي لوی اوکړ(۱) دی
لولنګو ځکە پە نیش دي
درناوی چې پە دوتر دی
ټول پە تومنە آدم زاد دي
څوک تالە، څوک تالانګی دی
چې درنە ډلە(۲) یې ملە(۳) دە
د هغو سوی پە سر دی
داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موړ، څوک یې نهر دی
هر ټولنە پانګە والە
د خان بدولە اشر دی
عقوبت بە غرغنده شي
داچې نن ډکیا(۴) سوشر(۵) دی

---

۱- اوکړ= اولال، ۲- ډلە= ګوند، ۳- ملە = ملګری، ٤- ډکیا= لوګی. کوونکی، ۵- سوسر= د ډېروسپیاکو او دچې نری نری لوګی کوي.

○

چې يې ځانه ښکې بدې مستي
وا به نه خلي تورې څڼې
په کږونو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايې د نيکه ګټې
د يوه ماته، باتې سوې
د تورګټ سوې ډيوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ يې !
دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصرې تورې دې سمې
چونګ ايره يې پاتې شوې
وې انکار د درنې ستې
حق ننګيانو ته وريتېږې
د بې ننګ هر کاله بتې
لات منات چې ګذارې څوک
شي پخپله يخې ګټې

خړې، ځکه شوې، خيالي نه شوې
د «لا» شي ځني شی نه شوې

د جس ترغې نه نا مینده
تل نچه شوې کنی نه شوې

تښه شخوله - خالي تيکی
ببل توره، توبری نه شوې

له حجرې تر سرې راغلي
لاپه «زه یم» سرې نه شوې

له مذهب چې ملستل دی
لدي مرېني ځروندی نه شوې

انځاره کې چې دی پروت دی
هغه ستر آدم زی نه شوې

مسکيری درته آسمان دی
ځکه باز، باتورزی نه شوې

هرآدم چې دی فرعون کړ
يې بلواک ، ځانوکی نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړی - نقش
۲- ځانوکی ـ ځانواکی

د وکـړو سالار پـــــړدی
خر سواره چې شاهسواران کړي
د کـوڅو لارو کـــو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
ګوګوشتان داومـــوختـــو
سندان سـري اتلان کړي
لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړوپیچ وارو یو ځـان کـړي
چې سړي يې نه سړي کـړل
راغوزاړ هغه بُتـــان کړي
دلالونو په ځلقولـــــو
د مشکنو بازار وران کـړي
چې جس من پکې قدرېږي
راد بر هغه دوران کـړي
داد نوم مسلمانان ټـول
پرېښتیا مسلمانان کـړي

۱- اړوپیچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټرو پرې و.

په میوو کې د هر ګلونه راټوکېږي
سره پیوینو د لاله یکې جوړه ده

ننګیالي دي چې د لوی ښښتن په تاریږي
پوره کړې د نړۍ ټوله بار[1] ده

ته تنزرې یې، د نیاده د بازونو
ډېرې ځکه ډروندون دی اداره[2] ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه کوي
زرغونه دې له ډروند کومه کایمه ده

هونایي[3] په تپوړوند دی، ښکار تر شي
که نه یې نن هم پرته هغه د وګړه ده

دګزي غشي[4] دې هر وختې په سر دی
په دیدوان[5] باندې دې اره پره، وره ده

صبا را شکه د شولان ګټوته منې
که دې نن ګټلی قام لره اوکره ده

---

۱- باره = مسئولیت - ذمه واري - پره ، ۲- اداره = وړانه - ګټې - لوټې ،

۳- هونایي = ښکاري ، ٤- دګزي غشي = دوړې پرې ګوزار ،

۵- دیدوان = شیش - څیرګونه .

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کور هسې یې غار
لکه اوبه هسې یې سوري
لکه پښه هسې پیزار
لکه باز هسې یې ماري
هسې باز لکه میښکار
لکه ږیره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
رښه هومره څومره کار
دا اوچت الوتو پانګې
د شهپرو په مقدار
د ږیوې زما تر کوره
نمر په ټول جهان اوښار
د بې ننګه په رنګ د بې وي
ننګیالي نه لري سار
چې د لارې او بنګو نه وي
په هغو جوړېږي لار

لا ﺑﻪ ډېر وګړي ګاندي
يو منصور خېژي په دار
د بې متو وار څنډ ېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمرو ندا خسټلي
سوړلنډی[1] شي کله ښکار
د اَتيانوس باري وي
په ملغانو کړمار[2]

کليمان نه شو تول عمر
له خدايي چارو ونه ګار

○

مذهبونه دي پوچ شوي غربېنونه[3]
مذهبيان د خپلي ماتي بيرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چي مذهب يې رواسته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چي څان لره دو ړېږي
دي عبث دا نځو ړونو کړاوونه.

---

۱- سوړلنډی = کيدړ، ۲- کړمار = يو غر دی، ۳- غربين = يو ټوپک،
٤- راتاندون = بيا راغبرګېدل، ٥- رواسته = وراسته.

له مذهب يې چې تو دې وينې کتګل شوې
مسلمان بايلل ملکونه سنګرونه
له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولې يې په نيش دي استونه
د مذهب دغوندلانو[1] تنستو کې
ګل ډيوکې[2] دي دعلم د بوستونه
له مذهبه هک ځلمی تول ريز کې شي
ريزکونه کله کېږي لوی کارونه
ټکی ټکی دکتاب نن هم هغه دی
خومذهب ترې نه وښکلی دی ساهونه
چې تر څو دغه مذهب او داملا دی
وې تالابه د تالا قاموسونه

پوخ سنګر دی شاه مردی ده
توربازي دی تيغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غوندل = غټ غمی
۲- ګل ډيوکې = دګل ډيوې

له فطرت دي پرده ده

له فطرت دي سرزوري ده

کليمه دي سرتوب دی

سرتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کليمه بيا خلق ژوندي که

د اله وارو ورستو شوي بيا لومړي که

دا چې خاوري يي له مخه نه چاڼيږي

د سپوږمۍ په دود غونډي پرقندي که

وروڼه وروڼه سره غوښې په چاړه کړي

له ټولېنژوندونه ورکه کوندکوندي که

شاه ميرونه له زړکونوستوروتيرشول

بيې راښکه خپل ملګري ګرځندي که

د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کرپندي که

د پسرلي درنه وريځه شه په خوی کې

ځان ورښت، ګله بريښنا او تالندي که

شاه ځلمي چي د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کو ورکا ګیره تلل نه ده
د ایلتیا[1] نو کلي ورانول نه ده
د راسمانو يې سمول نه ده
که اوندي[2] جوندي د دوپرک[3] وي
د یکرنګانو غوښې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب يې ځای ته برخېژول زده
چو رنګوړکان هم کراولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چي فرعونان يې موزي[4] کران کړي
نو کلیمان يې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي[5] ړنګول
د خلیلانو کعبه کول زده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وراني پیدا کوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغرولي چي غوښې رښتي نه وي، ۳- دوپرک = دو رنګ - منافق، ٤- موزیکي = چي د هیڅ بنې نه وي تش کتپري ډک وي، ٥ - بتکورکی = بتخانه .

د باتورپه څو شهپرو خپلولو
مښکیرک او غلیواز نه باتورېږي

دیو بُت په لړېدلو بُت غلیمو!
سومنات نه په کعبو کې نه بدلېږي

له کیکره د نښتر پیوند خوړو کې
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کېږي

چې په پړو کو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا وي
دغه سوي چنارونه نه تاندېږي

د قرآن واړه ربتلي عقيدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهېږي

د تیرو سرو ملستې بنا پېرکئ نن
د دنیا په تنکی مرګئ ته ببرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل «زه یم» سرهنګي پې سلامت یه
مړ ئیتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کره غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی
یو مخیزی[1] ځیګر وره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دی
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیشتینکو کتې نه شي
د ژوند ستونځې میړني قهرمان غواړي

په یوماره که کاوز شي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي یا نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یو مخیزی = چې مخه یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دي په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلين[1]
کراولې کړي ، يرغلونه کوي
لوګين[2]، اوريزه[3] که يې لاره نيسي
له الوت کله پرهيزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن
بريښ دړوندی تومن غونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرزول
بر هغه قام ، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت يې ده لتې اړولې
د هسکو سترګو معاشونه کوي
عقل بهير کړ غور ځنګي د شعور
وير ويراني ټول مذهبونه کوي
پياده له عقل کوم وګړي چې دي
د بل موټازه دي سوالونه کوي

---

۱- ستورتلين = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګين = د کاڼو ريځ يا نيبولا ،
۳- اوريزه = هغه نيبولا چې ستوري پکې په زړغونېدو وي.

حق نه په خندکې، فطرت په تر څې
تشې ځاندې وي، زور يې او به وي
عقل يې شل وي، هڅې يې کټه
په غتو کورې، ولې ړانده
نه پرې ودانه، که دوې ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو دقط نه وځـي
نه يې خوابه وي، نه يې تراخه وي
په تش په «زه يم» د واړو نيستمن شي
ځوراک يې خساک يې ځواره او خسبنه وي
په زاره شخوند کړې، نوی تره نه شي
نوی بريد ونه خودميره وي
چې يې راغوند کړې واړه کړلي
ديو کنجکې دا زرسبت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلـــــوکينو د لړمون نه

اوړين ستوري راغونډيږي

ستور تيليږي سر و هي لا

کائنات لا پراخـــيږي

که يو ستوری ورژيږي

نوی سل را و تو کيږي

د ځوندون زرغونېدو له

نوی ځمکی سا د يـنيږي

چرته ځوند دی په بخښنچه

چرته کچ، چرته ځـوانيږي

د زرها ستورو ميرو کي

د ژوندون غبری غږيږي

يوه ستا دا ځمکه نه ده

چې ساه دار پکې هستيږي

شخړې ځمکې سبکته بورته

ستور تلينو کې څرخيږي

هغه ځمکه ستا دو تر دی

چې دې لاس وروروسيږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کېږي په سر کېږي

د مېړونو ستورو بېړۍ دي
له سپوږمو ستورو تاوېږي
د یو نوي کور لټون کې
د آسمان لاري چاڼېږي
عقوبت دا ځمکني به
ستورګ زو ته ورسېږي

د ښوندون څومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي[1] پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مړي یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې زبېښونکي هله ورک شي
دربریا[2] اولس چې کله په پاڅون شي

د اویار لې څلي هسې ولاړ نه دي
د مړدۍ کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین د اوراو وینو شي وریږي
قافله یو قدم مخکې د شهوندون شي

که هر څو مره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هر قارون شي

چېنیشني[3] عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تول نه مریستون[4] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربریا = خطر- نتلی- ځپلی،

۳- چېنیشني = چې چناسکې یکې شوی وي، ٤- مریستون = هدیره.

د دوړان په زلزلو غرونه رارغړي
په شکلني ډېروکي څه له وياړېږي

تلناوونه يې رواسته، مونږی خوړلي
چاړ کېږدی کې به تر څو پورې اوسېږي

د پړنسبتر په چورلندو ځمکې له تللي
کچه ډيلي! په خپل خېږ څه غلطېږي

د سورسين چپې دمه وښکه له يادو
اى فرعونه! چې کليمؑ پسې پاڅېږي

د ملخ ځانګ سړ دي ملا شوله دوه غبرګې
ته لا ځې د آتي بارته لاندې کېږي

لا اله بتکورکو ته ښکر پوکل دی
که مؤمن يې تر وروستي بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بروړته د ګډه وخپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې تړي نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي راتلي نه شي
دوی د هرې سرخېړۍ[2] وتلي سر شي

د هر کورانغري تود، تیاره شي وړکه
مېړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي

له تونګه[3] د عیسی چې نمړی وخوري
که د ختو کوکوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو ځینې هم د بدرلیچور شي

---

۱- لړه کوز

۲- سرخېړۍ ـ د جنګ غالي سرپړه

۳- تونګ ـ شکور

دغلیم د برید او چیغې[1] حاجت نشته

لاس تر کړیوو چې پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخوړمنځي[2] په ځان ناتاردی

په تېغه که باتوراڼ وي تش پیڅال[3] شي

تانک دکیتی، دیرغل یې دلاس وځي

چې دچار اتلو تکی توري نه اتال[4] شي

ځلمي واړه په خپل اصل دي لاڵونه

دروڼو لو چې څوک نه وي کوټي لال شي

جماتونه، مدرسې او چینې د پرشول

خوله چا هغه بانګونه د بلال شي

○

چې دخاورو له کالبوته

او ده «زه یم» برسېرن شي

په اجل بانديې جال راشي

بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = ایه ، ۲- بدخوړمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ ، ۳- پیخال = د باتورغل - غرباز ، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار .

دژوندون دغورځنګونولوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ اونه آسمان دی

دفطرت غیرت پرانستی ده هرچاته
بود دهرچا هم په قدردخپل توان دی

داپه تاده جوړوې کاڼي که توره
خپور چاپېره دجنګړو واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمې ټولې اړ په مټ دي
مټ کول دبنیادمو پور په ځان دی

چې یې زده دسورکو وینو کښېدي دي
دهوهي دڅخه کمی پدې جهان دی

دباتورلمڅی دنیا ده بېله بېله
یو دځوړې، بل دلوړې وږي شاڼ (1) دی

چې سرمزي دنوښت (2) یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- وږی شاڼ، وږی انوونکی، ۲- نوښت، پیلات- ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډې چې چوې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل غوښه مې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسر کې
د هوډې هڅې و باسي لاړې غر کې

توربریښنو یې پخپله غماز کړ شي
میره کله پټېدی شي په لښکر کې

"ستوروڼا"[1] کرښې د ځمکې کړلې ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخېل دوټر کې

مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدي څادر کې

زهري خوره په بیمارې وروپېوځي
بلا ماره یې نیولې وي نظر کې

مړدکې، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګر کې

هره ونه خپله مېوه نیسي
چا مونډلې دي کروسکې په کیکر کې

---

۱ـ ستوروڼا = (په وزن د مرجوڼا) د ستورو ښکارې

زردار هغه کوږکښان دي
چې ژړوندي بنیادمان خوري
سړی خوږ په پټه یې نه خوري
سنه برسیر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا ، څه دوتریان خوري
یو وَری یې په شا پروټ وي
بل شي لښتي بارګیران خوري
دباطلو راجوړه ده —
په برمته یې بې کسان خوري
روایات راپا خېـــدلي
په حملو حملو قـــرآن خوري

دآدم په بدې ورځې
کلیمان واړه خپل ځان خوري

چې په منډه د هوډ یالو ځي
لار یې خوړ کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سورې شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اور ځني ونه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چپو چې انګوچه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګړېږي ژوندانه وي
د برم دکې یې شملې وي

چې دمت مجال یې نه وي
د هغو نا ندرې ګیلې وي

د باتورو هنې ګوره
څه که یو موټې بېنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړیانې یې تاو نه شي
نو هغه لیندې پرکې وي

چې وهي د تنکسي تــورې
په هغو کله تنکسي وي

سپوږمۍ، ستوري، ستور تيليږي
د ميړونو برآمـــتي وي

د سرهنګو غورځنګونه
د تاريخ زرزريـــني وي

د اخلاص د شاهسوارانــو
منزل لوی، لـرې توښې وي

چې منګل يې د زمرو وي
د هغو مارې ســکې وي

په راسمنو باندې غــرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناوړې ســنګر بايـلي
ويښې سترګې پليـتې وي

دونګ تښتي کُن پرېانه
چې د بدر تړيـــسي وي

د ميړونو لوی لاســـونه
خپله تورې او بــلـې وي

د ګيدړو په نصيب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -1-

چې یې پښتې وي غزولې

د هغو د آکې سپېرې وي

چې له ژوندانه ماتې وخوري

زور یې تول په موسلي وي

د مرشداکو مسئلوکې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښې هم ځان سره کوږ کړي

چې یې خپلې پښې کړې وي

دیوروغ د سیالۍ نه وي

د رندوکه پرګنې وي

○

قام ډلې ډلې تورو تور بریښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی
هر ډلیت خپلې ډلې ته ښه وایي
دغه دستور د ډله بازۍ دی
پلویان زاروه، ناحق به حق کړي
"قامي جرگه"[2] کې سوال د لیږه دی
چې "جرگه غړي"[3] ټول شته منان وي
واړه هیواد دی ونډې ونډې دی
کاواکه دروغي واکمنې ډلې
څوک یې د مخې د کاواکۍ دی
د "سلاغونډه"[4] سیځلې لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = دیموکراسي.

۲- قامي جرگه = پارلیمان.

۳- جرگه غړي = ممبران.

۴- سلاغونډه = د شورې غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شړوند یې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلی ناوښکې په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دنګ قامتو" سراوښکلی
سالاري یې په نړۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپېره یې د ښه سرپټوب د ننګ دی
هم یې کټه، هم یې مخ ملا زۍ ورکړه
خپل پردي یې په نمانځنه باندې زنګ دی
د زیارت خوږدو ته ناسته بې کتابه!
ستا کوربلارۍ ولایت د پلې لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دی
او ملا د بې دلیل مذهب امام دی
روښان خیاله نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرځوان یې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه ډکه کړي
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی

پوهګړي توري تړهيږي، ځي په ډډه
چې ملا ورښکاره کړي کوم اسلام دی

ليشتکی له ليشتکي مفکوري زيږي
ځان وګوره په جهان دي څومره سام دی

مذهبونه په کړي د نيمسـانو
دښته منو دخونديᐟ(۱) ګټو سمام(۲) دی

خدای څروندی مال يې ميرات دی
څه بې ځکه چه ناروا دي
دي د ټولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
دادلا د دوران سـر دی
دوتريان چې په کړ بـا دي
د هغو لپچـې تاويږي
له پيرونه چې په غلا دي
له زما، له زمـا يې نه
پساتونه په دنيـا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بندبنا

چې لېسين تر ېلاس نيو کړي

شاه مېړونه د الا دي

امانت د اولیا دي

چې له تا ځنې سوا دي

چې د حق او د باطل ډغره راشي

د بې لارې پلار نیکه په لاره مه شي

چې توره[1] يې د بتانو لړول وي

خدای دې وکوماري ته هغه مېړه شي

چې يې غل غدو له ويرې بلوسنه کړي

په مورچلو د قام وېښ هغه ليمه شي

چې مرشه واکي ولسونه پرې رغېږي

که يې سل ځلې توکي، هغه تارخه شي

څه زرغي زرغي کوي چا قهرمان ته

که ملا وتړې، هغه توریال به ته شې

غرونه غرونه واورې هله به شي ويلي

چې د نمر پشان پرې سور په ایشېدو شي

چې یوه پلار ګني وماڼځي اولس ټول

تربه هم د اولسیاسو په ولـه[2] شي

۱- توره = دستور، قانون ، ۲- په وله = په ډوډۍ - په بنسورځ

چې را شپېل دي په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم بـاله شي

چې د کړاو تندي خولې خولې شول
د قام جـوشي بیا پلوشـینې شـولې
د سربښندنې کرامت وکـــوره
دا زغو غـیږې ګُلـوریـنې شـولې
د پلار خـیرې دي کائنات دي واره
کاش چې دې تورې بیا پلرینې شولې
با تورزي خپله به راوزیږي وي
که د پروکی دې مابښـینې[1] شولې
غـراو راغه یې ښخ مـلي ونیول
چې د زمري ستوکې تندرینې شولې
د تورانۍ لپونې کوبکې ســره
ځانګې غړانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دي کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- مابڼې = یوغر

○

کلیمي لره شړوندي زړونه پکار دي

او ورله لوټې په پنډه کله پیدا کیږي

په خوږلن کي له بحر کوټو غړیدونکو

تر آسمان شړه کوونکي او رتاند بیزیا

چې یې نو د تنې وچ ، ځیلې شړوستې شي

په کڼوو بڼو شببونه راټوکیږي

د مذهب په کڼ خوړلو لختو لهړو

د سړسوري دقامونونه جوړیږیا

هِکځلمي بویه بیرغ د محمد له

دا په خوار ولیشتکونه پورته کیږي

○

مړه یوکي مذهبونه

لاري یا نه شي رښولی

د بوزړم انقلابونه

آذر نه شي راوستلی

○

دڅروندون اوږدې کیسولې  کائنات به چانول وي

له موجود ځنې پښتانه  ترلوګیزې پورې تلل وي یا

○

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي
چې پرې کړې وي وختونو
ګویا ځان له توزیږ[1] کړي
د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نیم سول شته، نه سړی شته
د خلیل مټ دې تود اوسه
د آذر چې بت کړه شته

○

د هند و عقیدو سنار کې
انقلاب را برسېږن شي
د زړه خدایا نو مسخ چې
ولسات ته کرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی
بتکورونه رانسکور شي
چې د زړونو په ورشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزیږ = بندوبس

○

خلیلان چې له تولـــنې
د خدایانو ورڅکول کــړي
نولومړي د دې خدایانو
خدایي ورپوچ کول کــړي

○

کلیمان د فـــرعـونـانو
پاچایي هله غـــوزار کـړي
چې بې لاره ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړي

○

دکلیم د درنې پـرګـــي[1]
خلقي ورېا وارم زبـرګې
هم يې کتــه ، هم بخښنــه
هم يې مټ وي، هم يې ستړګې

○

چې د وخت اړي کــړي کې
ځای تېنګ لکه د غــر ؤ
د خپل پوخ «زه یم» په مرسته
د همه پرګنوســر ؤ

○

---

۱- پرګې = پرګنې .

اوسې تش د عقل اند ېښنو سره
ځې په تياره لار او ور اوړ کو سره

عقل که سقراط دی، بريالی نه شو
ګرېوې په لاس د برشو کشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښو سره

لا تر اوسه لرې له خپل ډکه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بله ځې
درومې دې نيلي د برېبو کو سره

وينې اوښکې وچې شي لنبې کښېني
عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه ای حيرکه کليم زو سره

آدم زی له مرئیتوب ځني آزاد کا

د "ماکان لِبَشَر"[1] سبق ورياد کا

چې د بل د خولو وږم تې راخېژي

د هغو ما ښو کړ کچو خوړ بنیاد کا

د آذر د بُت خاني لړولو ورستو

شړې ورانې ورځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غرقېدو شي کلیم والې

د دوران فرعونان دې خدای راياد کا

په لوخړو کلي پټ، په وينو ډوب دی

د کوچني فکر سالار دې څه فساد کا

د مړې په ځای ځښتن چې زور نیسي

د عمر انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کړېوانه د فطرت يې چې لاس وښکه

هغه قام به زر په غاړه کنډ کچلول کا

لا اِلاّ چې يې توره شي د نښولـني

هغې ډب به یرغلونه د منګـول کا

---

[1] (ما کانَ لبشرٍ ان يؤتيه الله الکتاب ... ثم يقولو للناسِ کونوا عباداً لی ...)

حق باطل ته وړي تور برېښ دی تل راغلی
حق به نه وي چې باطل سره نيم سول کا
د هر قامونو نه دي غوندي اوبو وړي
په سين غاړه له بارګير خوشي پرزول کا
رسيدلی په خپل "زه يم" شاه ميړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا
دا کاني يوازې تېر و خلقو نه کړي
خلق اوس هم په ژوندون لو نه ښخول کا
د دې کلي خلق ټول سره يخواره دي
په پر دو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چې ځانکړي سود پسې يې شي وګړي
په ټولنه کې سوراوو په غورغنده وشي
د شته منو شته مني چې خُمار وکړي
انقلاب د نيسمنا په راتلو شي
چې بې وس دي دوسدارود سيالۍ شي
د زرداره تپې دا کله پيرزه وشي
دوتريان د لولنګو غمونه نه خوري
له ليوه کله زړه سوی د شپنکو شي

زر داري د پردو وينو لوى اغيرړى

اغيرلي عقوبت په چاودېدو شي

الا مي د او بنستون د قلِ العفو ؟

دوترونه چي ورو ورو په کمېدو شي

هغه کار چي کليمانو ته اتهال دى

هغه کله له مارکس اوله روسو شي

له دستور د باتورانو چي بي ړک دي

خود په جاله کي پيدا يي مښکېرک دي

چي يي ژرند د خدائى لاړي په لاړوي

هغي سيال دى، هم برخين، هم په خپلوک دي

د مېړونو لار د اکي آسماني لاره

مزغړو ته لاري تل د دوپرک دي

له ساده ايمانه ځار يي فلسفي شه

ځښتنان چي دلروکي د بتک دي

شپنکي کوره غرضونو شرنحان کړل

په برمته ارم په غوښود کنډک دي

د ننګيال واړه کاروانه هلي ځلي

د نيمنو، بي اسره وُ په کومک دي

○

تور[1] ښخنکلي پرې برې راولي نه شي
چې د بدر، د حنين توري تر ملا دي
الاچې غوندې دانه راوړي يو ځای له
شاه ځلمی له شاه ځلموکه شاپه شا دي
ننګيالي د سرزړوکي د تور سر و
ننګيالي جګې شملې داوليـــا دي
فرعونان يې چې په مکرکوټ ښکار کړي
زرکول يې بيا کاروونه د موسیٰ دي
يو کتاب وو چې امت پرې ټول راټول وو
يو کتاب دی، اولړوه[2] دوه اويـــا دي
هر دليت[3] د خپلې دلې د وزې[4] وايي
او اې خلق حريان، چې ترښتيا دي!

---

١- تورښخنکلي = چې توره ښخنکل لري، د باطل ځواکونه.

٢- لړوه = ګوندونه - دلې.

٣- دليت = د دلې غړی.

٤- دوزې = ثنا - صفت.

د ژاړې[1] تنګسې کړبنې کې
څو ندانه کله ځائیږي

څو ند غځیږي، او چتیږي
ژاړه خوړي او سمسویږي

د ژاړې وجود د خیر دی
چې پرې "ژه یم" شیرازیږي

د وجود دنیا تاغیر خوري
"ژه یم" کله تاغیریږي

د څښتن په لیکه "ژه یم"
خپل قامت وته رسیږي

د ژاړې ځاندره شي ړنګه
"ژه یم" هر کله پائیږي

ړله د خدای ماتې خوړلې نه شي
څوک یې تړلې پرانستلې نه شي

توره به ستا د موزیکې توره وي
د میړه توره پښبدلې نه شي

---

۱- ژاړه = (لکه واوره ژاړه) ماده - چې زیږول کوي - Matter

د ګیدړ برخې دي هرچا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي

که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي

چې یې بیرغ د الاهو رپېږي
څوک په سنګریې ورختلی نه شي

زمانه هر څومره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي

د غیرقامونو د کټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک کېنولی نه شي

د خېګړنو(۱) خاوندان چې اړوېیچ شي
رسوي به څوک جاله وایه څکو درته

ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اړوي بلا رونه پردي ورته

په زنارکې تسبې و پیلې خلقو
یو مخېزې مسلمان چې لاړ شي چرته!

د خلیل نوم د ثواب د پاره اخلي
ژوندانه دي بتول ناري وهي آذر ته

---

۱- خېګړه شناز

خدای دي توان د مهتونه يات دشا ځلموکړي
چې په نره ورکېوتي دي لوی غـر ته
دکليم د پرې خلق هم هغه دی
نيمګړتياوې چې دخدای رسوې سر ته

○

بيا پېنوار د محمد(ص) په وينو جب دی
د طائف خلقو دي تيږې بيا وروړلي
دا جندې دکليمې چې چرته ړپې
دا دبدر له ميدان راغلي ستړسولي
دکعبې په توره کټه لوظ کوونکو
دسرونو په باز وغاړې خلاصولي
صدقه د وينو سرو د پښتيالو ده
چې نن قام دخپلواکۍ خبرې کولي
دسمسور فصل رشه پيمانه کېږي
دتش تورکې پيانې کله چاکولي
سمندرې خيرې غوټ کا خپلې غېږکې
که او به دالکه و ورځې ختولي[1]
ساقي خُم ته دشا کاسه سره ناست دی
خوکه سترګې ليونو بيا وغړولي

---

۱ـ ختولي: چې دختو لهوړې کې وي.

پخه مه شه د توریال د مړدی توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د ړوندي مفکورې[1] خپله د ومره څواک[2] وي
بې لښکرو کړي را لاندې هیوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
چې راځي بوربور کې انقلابونه

یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاندوي
نور دخیلمي[3] دي باد وهي بیرغونه

هم پوهنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
رارڅیږي نوراومه او پرنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوي شي
په غړمبا روان اکاو[4] اکاو سیندونه

د تاریخ په اوږدي پلنې هدیره کې
بې له شناختي[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه - فلسفه، ۲- څواکُ = زور - قدرت،
۳- دخیلمی = ټول - سراسر، ٤- اِکاوُ = بردم - ډکُ ،
۵- شناختي = خازي

د هغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندۍ یې د ځلمو شهوتې ترکې شي
چې یې ګډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلولۍ کوزې جنګړې شي
راسمنې د مشرانو چې یې نه وي
ښې درنې پګړې پلرنۍ یې ښنې[2] ښنې شي
لاشه تورې بنیادم تشې کاڼه شي
چې په برخې بې ژونده عقیدې شي
د شادو غوندې پېښې کړې د قامونو
چې یې جس د نوښتون بسمې بسمې شي
څه په څه دي له خاورینې ډېوې ګرځه
له ډیوې نه عقوبت بلې ډیوې شي

کُچ شومَلې[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د ژوند شاربېل کړي
د مېړه لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

۱- بڼه = رنګ، ۲- ښنې ښنې = ریښې ریښې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې.

چې په لار د شهزاده(۱) شي

هغه دوه ژبي ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره

چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نيزه وړي

که آسونه دې ترتيخل کړي

د ښې ورځې په تکل کې

خلق توري هم کال کړي

د کالا کوترو ته ګوره

چې په نمر پسې غپل کړي

دباتورانو نوغي(۲) دې خوړ کړ

درته دي پاتې تش پيخالونه

دلبه(۳) مرداره څندوې لاس کې

تش تپوسان پرې کوي سود(۴) ونه

د چتو ښکاري دو ګرزې نه کړي

هونهايي ګرځي نيسي بازونه

---

۱- شهزاده = کیاولی دکتاب نوم ، ۲- نوغی = اصل - نوغی خوړول - بیخ وړکول ، ۳- دلبه = غوښنه - طمع ، ٤- سود = مینه

چې پرې اړې وي د باتوړانو
نه ښکاري هغه دننګ ننښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وایي کوم کتابونه؟
غرابین زنګ شه، او توري پټې
پاتې مُلا دي، یا یې بانګونه

○

وګړي کوره په غوړنو وپړنو
نمري له یوبل نه اشوکول کړي
کارونه واړه د لاس سبري دي
څوک شي سکونډلي او څوک سکونډلکړي
دښته منانو د پنګان راپنه دي
دښمنانو ونډه ویشل کړي
یو پنجور هم خپل نوغي نه خوري
آدم لګیا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې رانده شول
څوک په اوږمکو[2] شونډه[3] وهل کړي

---

۱- خمڅي = د نرو جوارو د وډې - خوار خواړه، ۲- اوږمکۍ = غوړه زیړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډ وهل = لکه څاروي چې په ګیاه کې تشه خوله ووهي - ولې خوري یې نه.

د قبر ځای د لوښکر نښته

څمکه وال څمکي را انغاړل کړي

دوړه تو غوښو د ډوزي خېښړي

خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکي مخ چې په بلهوا ړي

دا انقلاب دی، هم دا پکار دی

چې سپوږاوبلی سره یو سیال کړي

هغه رېښتیني کاروان سالار دی

وارته دې شغله زړغي ز رغي کړي

نن را اوچت شه هم نن دې وار دی

میړه د عقل، غوښې د ښکار خوري

د عقله پلی پخپله ښکار دی

هر سړی ځانته تر خره تو بزي

یو شو ماره دی، نور ولښ خوار دی

کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی

یو سر او بل سر عالم بې لار دی

د ننه په تن کې زړه د زرغون کا

بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندانه کله بېلتون کله ګډون دی
کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د زمانې بدلولو نه وي
د دوران کوږ څرخ به اوشه بدل

د رناوې او سپکاوي په جسوار دي
ستا په لاس ده که ګڼې او سې که نسل

تشه توره ګوري لار د ګټې نه ده
توریالیه! چې څو نه شولې حق مسل

ساد، هغه چې په خولو یې د تندې خوري
تیار خوړلی د همه ولسیا غسل

دیګر ګوګل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دورنګان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچي ماهیوان بار کړي
اوس وهي به یې د ایلبند شمال او ربل

حقتولنې څنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورځي بې

دککوړي د سرې ټوکرې د پاره

آدم زوی بل آدم وته تیښتېږي

یو شته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی

نیسمنان خو په جنګ شوي تل اوسېږي

د ناچارو کټه باندې کښېوي باندې

د چارمنو کښېوي بې اګتي پښېږي

د بې وسو د خولو په ترمو څاڅکو

د وسدارو ماڼۍ رنګ، ځمبې ډکېږي

د رناوي چې په موړې[1] یا په دوترو ي

لولنګر به په کنځیله خود ارزېږي

بې اسرې آسمان ته غړندې غړندې اړي

په ظالم چې به لاکله نسکورېږي

په زوخړه به یې غړونه شي ټول ویلي

په لړمون د ځمکې داسې اورختیږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی

بې ټولنې بنیادم څه دی؟ نه شی دی

ټولنیزه ژوند سمسور د سرې جس کا

د ټولنې مدعا واړه سرې دی

---

۱- موړې = پانګه ،

په ټولنه ریزکی لوی قهرمان شي

بې ټولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې ټولنه دې آدام په کلیمه وي

هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د ټولنې سره مل، دڅان څارن شه

چې ستا "زه یم" د ښوندون څانګړی شی دی

چې ټولنه یې باره(۱) دارتیا(۲) ناخلي

هر بنجه یې خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وارې نړۍ یوه کورمه کړي

د یوې کورمې خوټل یوانغری دی

دازغوله ویخه سترګي را ټوکیږي

د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څویږي

سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري دزرونو بت غلونه رانیسي

د مزنو پیت پړک هم په تیپچه وي

شرق ناتاریې دوختونو نیمه خواکړي

انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیښتی، ۲- ارتیا = ضرورت - نیګرتیا - کړمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي

ولسونه خوږ خوږ دي ارکجه وي

د شنډي تخم کړونکی    عقوبت وي برخه شنډه

خېږ يې څه کړي چې نه مومي    څوک يې وېږي له درست ونډه

چې د مال او ژوندانه دواړه زکات شي

سرلوړي به دې هله په ولسات شي

چې نيستي د بېسمنانو نه غوښېږي

او ردي پوړي په داسې خير خيرات شي

ولسونه په مېړونو ژوندي اوسي

چې مېړونه په نيش لګي، خود ميرات شي

شريعت چې په اندول[1] د خپل وخت نه وي

عقيدې واړه ذکنې لات منات شي

د ژوندون پانې په خپلې سکې[2] کېږي

هغه ورک دي، چې پيرې يې په ميرات[3] شي

چې يې منډه نه له دين نه له سادينه

د ژوندون خوابزه په داسې ولس قسات شي

---

۱- اندول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې اوښې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځنې زيات شي

هر غوځنګ[1] ته دوړنګان وړښوځي
ځان دي پوهه په دې ټکي هرسالار کړي
تا بيا ګرانه د بهر دغليم نه ده
کور غليمي په اتبار اتبار ګوښار کړي
د دوړنګو[2] وي نظر په خپلو کټـو
کله غاړه کې تسپې کله زنـار کړي
چې د ننګ خبره راشي کورغاري شي
تش ميدان کې به د ډوز وټود بازار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دي له دښمن سره روزګار کړي
دوه مخيزه ژوند په نه ژوندون ليکه[3] دی
يو مخيزه شاه ځلمی يو مخيز کار کړي

---

۱- غوږځنګ ـ تحريک ـ خوځند
۲- دورنګ ـ دوپړک ـ دوه ژبي ـ منافق
۳- ليکه ـ حساب

هم خپل جسد سړیتوب خاورې ایرې کړې
د دور رنګ عمر په ځان باندې ستم دی

ښښتن تول د قدرو وړدي پیدا کړي
یو سړی د بل سړی نه په څه کم دی

تر[1] بیمار د فرعونانو دود دستور وي
که ولس یې تل زغمي، نو ولس کرم دی

ستور تلیزو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود یې په کلونو د شرشم دی

با توران چې د کونترو ځای له را شي
ای ویږلو! نر هره چاودی د غه غم دی

دې تولنو او دودونو لیشتکی کړ
کمنی لوی له کائناته بنیادم دی

په لویدیځ کې لړ له عقله رڼایي ده
په ختیځ کې د هرلوري نه تورتم دی

نمرپیتار[2] چې د فرعون وي نر امن نه دی
نرامن هغه، چې فرعون یې ور کول کړي

---

۱- ترپیمار: وهل ټکول، ۲- نمرپیتار: د بل دوړی ته ناست.

چې بې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسمنه وي جابر را بغول کړي

چې د بل په سترګو وينې تل ړانده دي
روغ هغه چې يې پخپله ځېرول کړي

نه سړي شو چې سړي يې خدايان کړل
چې سړيا وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزړي، بازوان نه دي
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي

ننګيالي د شهوند نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي

په ذړو کې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لور په لوړه تېرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګياله په رشې

ښاپيرک په تورو ځخو سر ښاسي
سور پيا شه ختيځ را نولي پلوشې

د بازونو با تورانو پدې قات کې
تپوسانو ځنې غوره دی باشې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی
ترڅو پښې راټینګوي برې مشمشې[1]
لا لیدلي يې بورسترګې کلیم[٤] نه دی
څکه کرځي فرعونان لا په نشې
دحق د وګړه له خپل ځای رټولی نشي
د باطل دا شد تونه خرخشې[٢]
اروپیچ چې له نقشې د کائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

○

چې د نمړ ستړګه وبرېښي
غرونه واورې کاندی ویلي
حق بر یال پرون هم نن دی
کړې نښتنه څوک په سیلي[٣]
داوبو د مخ کیل نه دی
کلیمه د کانې کیلي[٤]
د نښتر د سیالی نه شوې
که په خنر شوې ډېرې ډیلي[٥]

---

١ـ مشمشه = پروپاګنده، دنهوره. ٢ـ خرخشې = جنګونه، ٣ـ سیلی = ملاتړ
٤ـ کیلي = کرښې، ٥ـ ډیله = یو وابنه.

بدخوګ بدو ته نه وایي
خلق شوې داسې ایلې
چې رنځور باوېړې[1] وکړي
پوچې شي د دارو هیلې
له پولاد اصیلي زیږي
خرې نه زیږي اصیلې
چې نښتر له برمه درومي
نه ټینګیږي په یونیلې

لکه کس کړې په ځان غاړې
هسې قام په ځان کانې[2] کړي
د هرچا تبر له تن دی
خپلې سپینې خپله پرې کړي
هرڅوک قبر ځان له کني
هرڅوک خپلې جنازې کړي
غلیان له کوره زیږي
پلمه باز څه له پلمې کړي
هرڅوک ځان ته تبې[3] سرې کړي
بیا یې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باویړې = د ناروغۍ بیا تاندېدل، ۲- کانی = شندې غاړې، ۳- تبې = د کټې تبخې

خپل عمل بری ببښــــن دی
خپل عمل په غاړه پــــړې کړي
څښتن ظلم تــــېری نه کړي
هرڅوک خپله د یوې مرې کړي
د فرعون دکور له درنده[1]
کلیان جګې نــــېزې کړي

په مسور[2] و باتورنه ړنګوي نوکې
د تنزېږو تودې وینې یې مسوروي
د ننګیال کړلي خېژي، سمسورېږي
میړې واړه او سپېنخړې که سوسر[3] وي
د دوران تا بیاد هغه چا دوس ده
به غ ښتنو ډروندون چې یې نظر وي
د تاریخ تول نرزوری پر کونه سېي
چې مدام د ننګیالو موټی لښکر وي
منګوان به څوحق د لارې تښتي
د هر یو لار به آخر پدې خیبر وي

---

۱- درنده = غولی - جَوَس .
۲- مسور = دمنوکونو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = دوکیاګمېدونکی اور .

○

علیمه لوی چیناګر دی     تل ترتله په غـور ځنګ
سوسرونه پرې اسپرلین دي     سیمه سیمه پرې ګلرنګ

◯

دکشرمشرفرق خوخود وي
ځبښتن لومړی دی او وروستی ته یې
دیونه کېچ یې په نوروبـــــره
هغه قجیره ، ځواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کـړل
هله په ولې یې ، هله به شته یې
ځکه دې غوره ځپل سراخـلـي
دهغه مټ یې ، دهغه کړه یې
دهغه مل یې ، په زړه بسیل یې
له سین زرغونه بربوکېنی نه یې
په سپکوکانو چې ځان دې تولې
داله خپل ځایه لاخبرنه یې

---

۱ـ غوره ، تورتهمت ( ... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ... )

◯

په درست عمر کې بوڼه[1] دی نه ده کړې
دادی بازدی وهنده او دا میشکاری ی
یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
دکانې غوځکی یې ټول عمر په لاری ی
نه دی برید، نه دي ولجه، نه دی مښود څه
هسې لوت[2] یې او ځمکې په مخ باری ی
څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنګاری ی
حج، موځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې او س هم زناري یې، بُت ګزاري ی
لږه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه
چې دا ولې له همه قامونو خواری ی
چې هم دغه مذهبونه دې اسا وي
لکه ړوند له کړنګونو به غوزاری ی

◯

د علیانو په مسودونـــن
چې زنارونه ؤ، هغه تسپې دي

---

۱- بوڼه = لومړی ښکار کول، ۲- لوت = بې هدوکو ځانده.

کتاب کښلی، باطله کړي

دکتاب مینځ نن هغه کیسې دي

انځور هم هغه خدائی انځور دی

ولې پرې شوې پوچ کښیدې دي

چې خلیلانو رانړنګ کولې

دامنیانو هغه کعبې دي

داچې یې نړونډ دکلیمو خیژي

چې ویخ یې کوړې بې کلیمې دي

دمذهب شړوتې لیندې پرلاس دي

ځکه یې ویشتې تل مړوندې دي

چې حق ننګي وه ځلمي وغشي

چې بې ننګي شوه ځلمي ډړمې دي

دباتورو دوړ تړل ده پر

لړه ناسته یې په ځاله

دشړوند برد[1] کې، راځي پیتي[2]

دنصیب لیکۍ ته اتاله

چې نیستي په هستي مارل[3] یا

څه به خلاص شي له زواله

---

۱- برد = سیالی ، ۲- پیتی = وروستی ، ۳- مارل = حسابول .

چې يې ګډه کليمه ده
ولې نه دي تول را تـــاله؟
بازداري دي خپله ستا يې
په ديوال له تش پيخـــاله!!
په ننزې باران پسخه شـي
اوم غـړن لوښي ګلاله!
د بل کټې ته په طمـــع !
هيڅوک نه کټي يې تالـــه

○

خواږه برسيره کا، تراخه به ورک شي
چاپيرښونه که هرڅو تـرخـه ده
تيرې به وي ترهغې ځـلـې ځلی
چې دي ديوټ باندې ديوه خومره ده
حجره، جمات کې يې رښتيا وويـل
له يو مخيزنه ولسيا خپـه ده
د رابيا کې بورجل ته ځان رسوه
که لارد سر وغنو چا په چا په ده
د صبا لاره څوک د ب کولی نه شـي
منمه داوخت تکه تورو شپه ده

په سپوږمۍ کوزشه مېږنۍ وویل
دا د برنګ لاري لومړۍ کرۍ ده

ښه عمل «زه یم» ترغون کړي
بد عمل د «زه یم» زنګ شي
چې په «زه یم» شهسري[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي
شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخی شي دورنګ شي
بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت دخاورو رنګ شي
چې سمسوريې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي
مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې دخدای په رنګ کې رنګ شي
په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښېښتن که دچا ننګ شي

---

(۱) شهسري = سترسري - لوی سړی .

کښېنيده پرې ستا عمل دی
که دې "زه يم" سرانځور دی
شو سر هسکه دلې هوړې
چې په "زه يم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] يې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د ښېښې غم خوړکو!
ښېښه هم، خوشروند څه نور دی
دې آدم، آدم په زه يم
بې له زه يم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سړی ذات پوري پېغور دی

د مېړونو تېرو تورو چوړنګ يو پړل
د اَتي په امبالې چې غوړمېدل
د هغو ښارو بنه الوزي
سر چپه چې جُره باز نه نيغېدل

1- ځوانکه: د زړې يا تخم هغه شونی تيا چې زرغونه تړې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو په طبیلو خوړونو غښتي
چې له حق څخه ناحق ته اوړېدل
چې خوړلي سوګندونه يې د وفا وو
دار يې ښېبي په اوږو وګرځېدل
د ړندو کلي کې کړاني خرمهري وي
او لالونه په سوپیاکو خرڅېدل
د کلیم په برخه دا رنګې مرشد واکې و
چې له واکه بې واکې ته پسخېدل

د مېړونو پولادي متې سنګر وي
تور برېښونه يې شملې دقام د سر وي
په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
يرغلونه د باطل چې يې په سر وي
د مېړونو نغري کوندري شريک وي
شيخ ملي دوتري واړه يو دوتر وي
مخور د ړاني هغه تومن دی
چې پرانستي يې په درستي نړۍ وروي
د نهرم چینه به يې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي څېلې د نښتر وي

په نیزوکې یې دوړانګو ستوري ولاړ شي
ننګیالي د نمر خاته ختلي نمر وي
که د ینګان لري هر څو ستري وزرې
لوړې ماړې د باتورو په څیګر وي
چې کاسیر وي په پړونې کې بربنډ وي
حیا خپله حیاناکو له څادر وي
پردې بد شي د کتوی خپلې نکټولي (۱)
بدې کړونې خپلو بدو له اشر وي
د مېړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
یا د هیړ تول ماړه یا تول نهر وي

○

چې یوه یې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کنجې (۲) لاس وي
په توده کې یک (۳) جلب وي

○

نه توره د کائنات ده نه د شروند دستور او لاره
چې یوخو دې په (٤) وله وي او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولي = پخکړې - لمده بل، ۲- کنجې لاس = خپلو کې کلک لاس ور کړي.
۳- یک جلب = چې آسونه یې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماړه - هوسا.

د میړونو لار[1] لومړۍ توری وهلی دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړشي

د میړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي
هغې متې بډې راکاږي او نر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بویه[2]
چې ولس یې د شړه وي، شړیور شي

زمانه که ببرشوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې ښنجي کړي توغړ شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نو ځو هسې خلقې خوشې ککړ شي

د سینا په دونهه پنډه تول سر ببری
دیوې دونمې ترمخه یوتبر شي

برغو[3] پوک وهه، د ننګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخي[4] که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بویه = پکار دی، ۳- برغو = ښکر- تورم،

٤- بنجخي = درې خچې (په اصل کې دوني بوټی سرغوته وائی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توربريښ چې په ميدان کې جنګيالي وي
سرشېرۍ کې يې وتلي ننګيالي وي

په خپل کور کلي کې د ېر خلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نوميالي وي

چې کليم ورته بيرغ د يرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بريالي وي

کليمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د مېړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شي دی هغه منډ دابدالي دی
په داځه که دچا توره ابدالي وي

په سومنات د غزا بين په خوله بانګ وايي
چې په ختنه کې يې ګډه بلالي وي

بازدارۍ پورې پيغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول

په تولنه کې رڼا پوښتي زاغـلـه
که وګړي تول د سيلمۍ نه حاجيان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړوکې یو څوکه کلیمان شول
چې ډیوې یې ستا پلرینې واخستلې
دمیړي له ځایه پورته شوآتیان شول
د همت سپاره دې وبوګنېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول
زه ریالی له خپلې ماري په شانه شو
په داخه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزره ونولـه
ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي
نتره شلونه دازغو که وي تل
دستر کولاره څوک نیولی نه شي
دګیدړانو په اور روکې چرې
دزمري غوره بخطاکېدلی نه شي
چې شي لاس بری دفطرت په لارو
په هغو چرګ را پربوتلی نه شي
دنن په ګټه چې یې سود کړېدی
دصبایي میدان ګټلی نه شي

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بلبل ژړوي راوړلې نه شي

په شاه میره یې انګازه شوې ده
که یې بنجخی نسن لیدلی نه شي

چې د لېچو نه ور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګېز یې وترېي نو هغه لار شي
چې وسلو متو سره کلیمه نه وي
که دغه پښان تومن وي تار پتار شي
له دستور دکا ټنا ته خنک وښتې
د کندوانبارشته من قامونه خوار شي

بې وسې په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میراني شي کولی
چې د خېټې د غمونو نه وزګار شي

خواري بویه خو په حقې لارې بویه
خرډک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکې ولې نا ویسا یې
هم بخرکې چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سروي هيڅري خيم نه خوري

که پرې تېر د خزانو تر پسمار شي

د باطل د وين ټکي خو کليمه ده

له نيمګړو مفکورو هيڅ نه وېرېږي

د پرقامونه به د ځمکي له مخ ورک وو

خو د ټکه سره تيغ نه وېږي کېږي

نړېږي[1] ټول سمسور به د ل ځوخت ترمنځ کړي

تلوارګرندو! ديګ په وار باندي تودېږي

پلويانو د روسو اولينن! واورئ

دا نړۍ ستاسو په وړاندي به نوريږي

بنستونه د ثروندون په يوه حال وي

ادا ښي مکر له وخت سره نوريږي

ټول بدلون يانه بدلون ثروندانه ندی

خوار هغه دی چي يو لور ته ټنګ نيږي

په شونکار د اباسين چي شوي پورته

ولې چپ يي د مانځکي سندره نه کړه

۱- زبږي = نړۍ.

تا راکړه د خزان زرګونه تېر شول
خو د سروې شنه جامه يې زړه نه کړه

چې رښتيا ويل د کومو خولو توره وه
بر په دار يې له رښتيا و بله نه کړه

راغلل ډېر انقلابونه دلې هورې
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه

مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه

تېرو تورو تهمتونو او خوږې هم
هيڅ کچه د رښتيالو عقيده نه کړه

چې د سرو وينو پياشې پکې څلېږي
شاه څلمي هم په هغو لاړو چلېږي

سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه هڅه نه ارزېږي

ککرې د کليمانو وې تل هسکې
شکروري ککرې ورنه ټيټېږي

حقملان له زمانې وي پېړې مخکې
خلق نور د زمانې په دود تېرېږي

كليمه د كائنات سره جنګيږي
غل د زغل به له جنګ غالي پښاکيږي

ته دې خپله غاړه خلاصه په مړينه کا
دې ته مه ګوره چې کله صبا کيږي

دميږه له مټو پاڅه — د ناحق جهان نسكور كا
په چينجنو وستو ګرګو — بود هيره پورې اور كا
دا خدايان د تينګې نه دي — ولې ته سترګې د بوږ[1] كا
د قامونو ندي څمكه — د آدم تاليزه كور كا
دا دغو ښو تش لوتونه — په خلقا د جسو نور كا
د څښتن په ګنبد وكې
خپلې چارې دې اغوږ كا

په تيروتورو بر غنده ځي
ننګيالي ځي په خپل منده ځي
دميږه د خولـــــو ونم
د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱. بوږ = نهري.

له ښنتنه چې هر غرن وي
هغه کار هم کله شونه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکنه ځي
د تسپو خاوند ته خېر دی
که ځي دارلره، لونه ځي
وسپینېږې خَتِي[1] را و ره
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي
څه یې وېره بیا له اوره
زړې مات وروکي کور کړي
شي همغاړې له شه کوره
په چرسُو[2] به تر څو سود کړي
کائنات ځنې پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

---
۱ـ خَت = کمیس - کمیس، ۲ـ چرسو = تنګ ځای

سرېخېره تل پائېږي
خير دي نشته سرېخوره!
د فطرت په هنداره کښي
له څښتنه ځان ته ګوره

چي ځانمن دی هغه کس دی
چي ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غرونه لړېږي
څه ارزښت دلې د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړی چي په جَس دی
د هوسو د غزالي[1] نه
د زمري ورته ره وس دی
په زرګونو دلو سَرو[2] لـه
یو ښځری داور بس دی
ګړندو پړي ښیره ګَل کړه
د مېته وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله = د هوسو سېل
۲- سرو = یو واښه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام له کرکس
په درست قام يې لګولی
له پېرو راسې کرکس
دوی ړښمين له سره واخلي
قام له پاتې شي يکرس
روږي دېب کاندی ولس ته
بيا کوی مانځه او دس
د بې وس وندې کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لا تركضوا» وخت لنډ دی
لا کوئ هوا هوس

چې ښځکوې ظالمان شي
سينه يخه د جهان شي
چې خدايان پرمخې پرېوځي
را او چت بنياد مان شي

چې ځانګړې دوتنړ ورک شي
په توبه لولنګران شي
کليمه هله په پښـوشي
دباطل بورجل چې وران شي
زرداري کې ځاناځـان وي
کليمه کې ټول يوځان شي

○

پدې ښځو پرکسوکې
هم هغه ځلمی انځور دی
چې دټول نوعی دخيره
همه چاروکې حقطوردی

○

پوره جسوشه بيا ګوره
چې يوتن ځنګه لښکرشي
دميړه له چارو برېښي
په تندی اخستی غوشي
هم دهغو برخېنرتيا ده
چې خرډک پاچې نښترشي
له تنې نوخ چې اوچت شي
لکه نمر پېرې تل سحرشي

چې ژوندی وي د ښکار ځله

تو دې وینې خود شهپر شي

زمرين ګواښنه شاه ځلمو ته

سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کږې دوړمې دي

ځکه یې غشي بې پلې دي

چې له باز چېتو ته ناست دي

پېغالونه یې ولچې دي

ولسات لکه تنزري

د ښکاريانو په ښچې دي

د بل مخه یې پټوله مخه

پړکني نه دي ږمې دي

د نمرود وسیلي وایي

له آذري یې عقیدې دي

چې نومړې په سرو دي

د سروتشي پېښې دي

د باتور نخښې یې نشته

لا ملخې تولې جوڼې دي

د یو شرق نړغملونه دي
دا پڅي دومره اومـــې دي
یکې زه یم بـــوده نه شــه
وجود تښي تنســـتې دي

○

د آدم ځانګړی "زه یم"، لکه حق صمد احد دی
تن زانه دی ولې زه یم، لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ دی

○

د هر ذرې په درون کې د خپل ستر وجود ځوروی
تیغ، تنه ځانګې کلونه یې هم کامونه په خپل لوروي

○

دیکرنکه برید میرونه نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوابزه لېونه دي که ساره نه شي متونه
لمن څه چې ښادر خور کا د سپرلي ډیر دي ګلونه
ته لامیشت په سر پراوي ژوند دې شخړې پراوونه
خونې خونې ستور تلیږي تازه نه کړه یوخونه
که تنها کوته کښېنې شي کوته به مزلونه
قدم تیز کړه، چې غږېږي ستوره تلوکې جرسونه
یوه ورځ به درته راشـــي
ستور کڅونه بېلکـــونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي
وړانګه کړه شي په وړانګې
راډبره نوی نمر شي
چې حجرې غښتلي پاڅي
نو د هِک ځاندرو سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپینګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نو څوغې نوی په سر شي
شهسواران چې یک جلب شي
د بړدونو[۱] لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت وزر شي

(۱) بړدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ژوند پېښې شي مخ لسوځي

چې شوګير تېره نشتر شي

چې ګټل بخښل توره شي

بيا آدم جنت ته ورشي

چې دعقل سپاره ويښ شي

پوچ خدايان هله ړبر شي

○

د وجود توره زيږون دی    اود «زه يم» نوښتون دی

نوښتون کړه د ژوند تره    نوښت «زه يم» له پاخون دی

○

يو غورځی دی اباسين دی    غروند غرونه دی يوږنيز دی

يوه هڅه دی سپوږمی ده    يو يرغل دی ستورتليز دی

له تش ستور لاس اوچت شوی    اوس دهر غوره غوريز دی

ستا د توري له ټکوره    کائنات ټول سندريز دی

غره راغه دې له همته    ګل لمني ګل مخيز دی

لا د ژوند غرمه ده لرې

د اخو اوس لا سوزکهيز دی

که د ښروند نقشونه د پردي
ته د واړه ښروند انځوري

نور ښروندون دي همه پلي
همدی ته يي چي شهسوري

واړه ستوکي يو يو رنګ دي
ته له رنګه سپرلي طوري

د هوسۍ په سترګه د ننه
هم باتور کسي د بوري

د ذري په ځانده نمري
په قطره سمندر سپوري

ته په ځمکه کي آسمان يي
په سرو او بو کي اوري

د لشي سره پياځه[1] يي
لا شه توره، هم تکوري

چي راغونده شي موټي خاوري
کائنات شي چي ورخوري

د ځجرو په ارونګه کي
له ظاهر لميده څه نوري

---

۱- پياځه = د شاتو دک ګبين

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور کورونه په تا تنګ دي
نه هم سیال د خدای د کور یې

مفکورې به دې ړې پوچ شي
ددې یو کلیمې وړاندې

چې یې بېن سندرې وايي
په صبا یې وایي ساندې

په توپونو کې زړغونه — دا د دیوې او مشالونه
د سر هنګو شاه ځلمو دي — د خوګلو وینو رنګونه
د شاه متو الامې یې — اسمانکه سنګرونه
کښېدی یې د کړاو دي — ویرسېرلي شالیزارونه
د ناغوستر کوشوکېږي — شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګر بزیې — خوږې وکړې شولانونه
د عقلي هسنود رشه یې — هڅوبونه، تهذیبونه

د ځلي د نرګس غنې دي — پسرلی یې تا نګه راتلی شي
په ارکه چاپیریال هم — انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګنو نه — ملّه د لارې تولیدی شي

میږه مل که د ښښتن دی — له ښښتن مځکې کېږدی شي
د تیرو ازغو له تخرګه — نوی ژوند راستر کېږدی شي
د فرعون له خپله درنده
کلیمان را پاڅېږدی شي

آدمزاد لا لېشتېنګ دی — لا د پر لرې له خپل ډګ دي
که په ټومنه باتوران دي — لا په چارو کې لوکک دي
فلسفیان یې هلک فکره — لا، له زړه یې بې درک دي
په دې ویرلوی کائنات کې — په یوه ځمکه، نمرتاوک دي
که خپلوا که د پرځان بولي — چې یې ګوري لا بل وک دي
د شپانه ښاري لا نه زده — شرمخان د خپل کنډک دي
لا یې عقل د پرکچه دی — لا په ډېر جهلونو ککلک دي
د سرښوره نغوتکو — په لاسونو کې لېنزک دي
زبېبنا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولک دي

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي — لا دو چې ډېر خدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحا خبري لا لند پاري مذهبيان شته
خليلان شرونې کسرڅي د آذر لا لښکريان شته
هر نوښت ته کفر وايي لا مخ ختمي زناريان شته
قلمونه په اور سوځي لا د علم غليان شته
آدمتياله لا يو خوب دی لا د قام، خاوري بتان شته

سړيتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حيوان شته

وخت به راځي، ادمزی چې
له خپل ځانه اشنا کيږي
د خښتن او د خپل زړه يم
په اړيکو چې رسيږي
وخت به راځي د احيوان چې
د سري په پښو پا څيږي
وخت به راځي پوچ خدايان چې
د بريږي، نسکوريږي
او د جهل کتابونه
د خندا توکي جوړيږي
وخت به راځي کائنات چې
ستر آدم ته بيا تيتيږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د دېرو پېرو څنډ دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په څټ کې لوی کولنډ دی

ته په ښتول کائنات برېې خوله ځانه بې خبرېږې
ملغلره یېې په "زه یم" که سیپۍ په تن بهرېږې
په یو ښاڅکي کې توپان یې په ذرې د ننه غرېږې
بر سېرنه که لاک بنکارې چې په جس شي نو سېزرېږې
ستا توبرې توره دې" زه یم" هم په "زه یم" ولجه کېږې
که ورستي راغلي کاروان کې خود واره کاروان سرېږې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی د بهر هستۍ په څېرېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه لا د نیم ځان روزنکرېږې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور کېږې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سری دی

الکتاب په ادم زرونـــــی
لا ز بنودن آخرنی دی
که هر څو مره لغونی دی
خو هر نن کې صبانی دی

حق لا اوس هم نا ویلی
که ویلی دنـدلی دی
فرعونې دی په خمار کې
نا زېږېدلی کلیمی دی
چرک پرېوتی سیلاب زوځی
نوح پلوی بې بېړی دی
د کعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتې نه دی
دالیندی واره بې ژی دی
خلق خبتې د بتکور دی
حکه ښځې آذری دی
نا پوهې د هر وګړی
په وګړې په غدی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفکوري پوچې نيمګړې
ښکيلکونه، تيزندۍ دی

چې خوندي دې کړوروړه شه
چې دې وبازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جسن يې بايلل
چې د چتو وهندي شه
پولې پاڅې آدم وخوړې
چې د پولو ځای بندي شه
د خليج پرې ته وتې
د بُتانو وهندي شه
چاتونګ د اسمان وخوړ
څوک ځغلا په کړېندي شه

PROPERTY OF
ACKU
7550

شوندانه تول يوځانيز دی
که هر څومره ګڼ رنګين دی

مخ د ټولو په یو مخه
که هر توکی بل مخیز دی

په یو بهر په زیر جار وځي
دا رباب که زر تاریز دی

لاړي لاړي یو شهلاره
تهل تلی یو شهتلیز دی

ستور تلیز ستور تلیز کور کور
کائنات یو شهکوریز دی

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشي غوندې څیز دی

خو ځمکزی په شونی تیاؤ
د همه ښوند د توزیز دی

په تنزومت کیراو کړه
شیش بیا واخله ویرجهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
متی رابنکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړي وباسه آسمان ته

له بيلي دریاب ته واوره
لهٔ تنګي نه پلن دامـــــان ته
غور کمنه په لیندهٔ کـــره
بیا ورکښیږده سنځ کمان ته
له سپیر غوږي دېر شروندو کـــړه
لاس کړه اوبړ د نمـــره وبنـــان ته
پوهه بوځه خــیر کتیاله
خـیر کي راښکه ایمـــان ته
په نری ورخور یــدو کې
کرخبدلی او سه ځــان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library